# د حضرت عاموس نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

خُدائ پاک د غرور نه نفرت کوی. د خلقو يقين دا جوړ شوے وو چې مونږ خپل ضرورتونه پخپله پوره کوُو او دا ترینه هېر شوی وُو چې څۀ چې هغوئ لری دا د خُدائ پاک د طرفه دی. خُدائ پاک ټولو خلقو له اهميت ورکوی کۀ غريبانان وی او کۀ مالدار، کۀ د هر مذهب يا د هرې قبيلې سره يې تعلق وی. د غريبانانو سره چې کومې ظلم زياتے کېدو او ناانصافی ورسره کېده او د بل وطن مسافرو د مجبورئ نه به چې غلطه فائده اخستے کېده د هغې خلاف حضرت عاموس نبی خبردارے ورکړے وو. خُدائ پاک مخلص عبادت غواړی، سره د هغه مناسبو آدابو او رويی چې د هغۀ عزت په کښې وی. حضرت عاموس نبی يو شپونکے او زميندار وو چا چې پېشګوياني ورکړې کله چې يربعام د اِسرائيل بادشاه وو او عُزياه د يهوداه بادشاه وو. هغه وخت کښې د بُت پرستئ، عيش عشرت، لوټ مار او دوکه بازئ دور وو. مالدارو او زوَرورو به په غريبانانو زور زياتے کولو. حضرت عاموس نبی د بنی اِسرائيلو د مرتد کېدو، معاشرتی ناانصافو مذمت وکړو او خلقو له يې خبردارے ورکړو چې خُدائ پاک سره د لوظ ماتولو په وجه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به په هغوئ لویه تباهی راشی. په داسې وختونو کښې
بې‌حوصلې کېدل ډېر آسان وی چې آیا خُدائ پاک به دغه
بې‌اِنصافه، بې‌وفا، او د ناجائزه دولت لالچیانو سره اِنصاف
وکړی او کهٔ نه. خو مونږ له اُمید ساتل پکار دی ځکه چې دا
د خُدائ پاک وعده ده چې هغه به ټولو سره اِنصاف کوی.
اِنصاف لکه د اوبو د چپو په شان وبهیږی، او صداقت د هغه
سیند په شان چې هیڅکله نهٔ اوچیږی. د حفظ کولو دپاره
۱۴:۵ آیت "د ښو لټون کوئ او بدو پسې مهٔ ګرځئ نو تاسو
به ژوندی پاتې شئ. نو بیا به مالِک خُدائ، ربُ الافواج
ستاسو مل وی."

١ ۱ د عاموس پېغام، چې د تقوع ښار یو شپون وو. دا
هغه پېغام دے څهٔ چې هغهٔ د زلزلې نه دوه کاله مخکښې د
اِسرائیل په حقله په رویا کښې ولیدل، کله چې عُزیاه د یهوداه
بادشاه وو او یربعام د یهوآس زوئ د اِسرائیل بادشاه وو.
۲ هغهٔ وفرمائیل، "مالِک خُدائ د صیون نه غړمبیږی، او د
یروشلم نه غوریږی. د شپونکو د څرن ځایونه به اوچ شی، او
د کرمل د غرهٔ په سر واښهٔ به مړاوے شی."

## د بنی اِسرائیلو په ګاونډیانو د مالِک خُدائ عدالت

۳ مالِک خُدائ داسې فرمائی، "د دمشق خلقو بار بار ګناه
کړې ده، نو زهٔ به هغوئ د سزا نه بغیر پرې نهٔ ږدم. هغوئ
زما خلق په جِلعاد کښې وهلی دی داسې لکه په تریشر چې
غله دانه ټکولے شی. ۴ نو زهٔ به د حِزائیل په شاهی محل
اور نازل کړم او دا به د بِن‌حدد قلعه ګانې وسوزوی. ۵ زهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به د دمشق دروازې ماتې کړم او د آون د وادۍ بادشاه چې په
تخت ناست دے به ووژنم، زهٔ به د بیت‌عدن بادشاه تباه کړم.
د آرام خلق به د قیر مُلک ته جلاوطن شی،“ مالِک خُدائ
داسې فرمائی. ۶ مالِک خُدائ داسې فرمائی، ”د غزه خلقو
بار بار گناه کړې ده، نو زهٔ به هغوئ د سزا نه بغېر پرې نهٔ
ږدم. ځکه چې هغوئ ټوله علاقه جلاوطن کړه او ادوم باندې
یې خرڅه کړه، ۷ نو زهٔ به د غزه په دېوالونو اور نازل کړم،
او هغه به د دې قلعه گانې وسوزوی. ۸ زهٔ به د اشدود
خلق وژنم او د اسقلون بادشاه به تباه کړم. بیا به زهٔ په
عقرون حمله وکړم او یو څو فلستیان چې ژوندی پاتې دی به
هم مړهٔ شی،“ دا د مالِک قادر مطلق خُدائ فرمان دے. ۹
مالِک خُدائ داسې فرمائی، ”د صور خلقو بار بار گناه کړې
ده، نو زهٔ به هغوئ د سزا نه بغېر پرې نهٔ ږدم. ځکه چې
هغوئ د بنی اِسرائیلو سره د ورورولۍ د لوظ لحاظ ونهٔ کړو
بلکې ټوله علاقه یې جلاوطن کړه او په ادوم یې خرڅه کړه.
۱۰ نو زهٔ به د صور په دېوالونو اور رانازل کړم او دا به د
هغې ټولې قلعه گانې وسوزوی.“ ۱۱ مالِک خُدائ داسې
فرمائی، ”د ادوم خلقو بار بار گناه کړې ده، نو زهٔ به هغوئ د
سزا نه بغېر پرې نهٔ ږدم. ځکه چې هغوئ خپلو ورونړو بنی
اِسرائیلو پسې تُوره په لاس منډې وهلې او په هغوئ یې هیڅ
رحم نهٔ کولو. او خپله غصه یې جاری وساتله، او غصه یې د
قابو نه بهر کېده. ۱۲ نو زهٔ به په تیمان اور نازل کړم او دا به
د بُصره قلعه گانې تباه کړی.“ ۱۳ مالِک خُدائ داسې
فرمائی، ”د عمون خلقو بار بار گناه کړې ده، نو زهٔ به هغوئ
د سزا نه بغېر پرې نهٔ ږدم. ځکه چې هغوئ د جِلعاد د
اُمیدوارو ښځو خیټې وشیرلې د دې دپاره چې خپل سرحدونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوئ کړی. ۱۴ نو زۀ به د ربه په دېوالونو اور نازل کړم، او
دا به د هغې ټولې قلعه ګانې وسوزوی. د جنګ په ورځ به د
جنګ دغه شان چغې اورېدے شی، لکه د طوفان په ورځ چې
تېزه سیلۍ وی. ۱۵ د هغوئ بادشاه به خپلو آفسرانو سره یو
ځائ جلاوطن شی،“ دا د مالِک خُدائ فرمان دے.

۲ ۱ مالِک خُدائ داسې فرمائی، ”د موآب خلقو بار بار
ګناه کړې ده، او زۀ به هغوئ د سزا نه بغېر پرې نۀ ږدم. ځکه
چې هغوئ د ادوم د بادشاه هډُوکی وسوزول او ایرې یې
کړل. ۲ نو زۀ به په موآب اور نازل کړم، دا به د قریوت
قلعه ګانې وسوزوی. ځنګه چې د جنګ لویه الله ګوله شی او
بیګل وغږیږی نو موآب به د جنګ په تاو کښې هلاک شی.
۳ زۀ به د موآب بادشاه سره د هغۀ د آفسرانو تباه کړم،“
مالِک خُدائ فرمائی. ۴ مالِک خُدائ داسې فرمائی، ”د
یهوداه خلقو بار بار ګناه کړې ده، نو زۀ به هغوئ د سزا نه
بغېر پرې نۀ ږدم. ځکه چې هغوئ د مالِک خُدائ شریعت رد
کړو او د هغۀ په حُکمونو یې عمل ونۀ کړو. ځکه چې هغوئ د
دروغو خُدایانو بې‌لارې کړل، هغه خُدایانو چې د دوئ پلار
نیکونو یې پیروی کوله. ۵ نو زۀ به په یهوداه اور نازل کړم
او دا به د یروشلم قلعه ګانې وسوزوی.“

## د بنی اِسرائیلو عدالت

۶ مالِک خُدائ داسې فرمائی، ”د بنی اِسرائیل خلقو بار بار
ګناه کړې ده، نو زۀ به هغوئ د سزا نه بغېر پرې نۀ ږدم. ځکه
چې هغوئ صادقان خلق په سپینو زرو او غریبانان په یو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړ ځپلو خرڅوی. ٧ هغوئ د غریبانانو سرونه لکه د
زمکې د خاورې په شان د پښو لاندې کوی او نهٔ پرېږدی چې
مظلومانو ته اِنصاف مِلاو شی. پلار او زوئ هم یوې ښځې
سره څملی او زما د پاک نوم بےحرمتی کوی. ٨ هغوئ د
هرې قربانګاه په خوا کښې په هغه کپړو کښې چې په
ضمانت کښې اخستے شوې وی څملی. د خپل خُدائ په
کور کښې هغوئ په هغه پېسو مے څښی چې د بےاِنصافئ د
جرمانې په طور اخستلے شوې دی. ٩ خو زما خلقو
وکتل چې ما اموریان تباه کړل، اګر کهٔ هغوئ د دِیار په شان
لوَړ او د څېړی په شان مضبوط وُو. ما بره نه د هغې مېوه او
لاندې نه جرړې وویستلې او برباد مې کړل. ١٠ هم ما تاسو
د مِصر نه راوویستلئ، او څلوېښت کاله مې په صحرا کښې
ستاسو لارښودنه وکړه چې تاسو د اموریانو زمکه قبضه
کړئ. ١١ هم ما ستاسو ځینې زامن پېغمبران جوړ کړل او
څهٔ ځوانان مې د خِدمت دپاره د نذیر په حیثیت وقف کړل.
ولې دا رښتیا نهٔ دی زما خلقو بنی اِسرائیلو؟“ مالِک خُدائ
داسې فرمائی. ١٢ ”خو تاسو د نذیر په حیثیت په وقف شوو
خِدمت کوونکو مے وڅښل او د هغوئ قَسم مو مات کړو او
پېغمبرانو ته مو حکم وکړو چې، پېشګویانې مهٔ کوئ. ١٣ نو
بیا، زهٔ به تاسو داسې دباؤ کړم لکه څنګه چې د غلې نه ډکه
ګاډۍ دباؤ وی. ١٤ نهٔ به تېزه منډه وهونکی وتښتېدے شی،
او نهٔ به طاقتور کښې طاقت پاتې شی، او نهٔ به جنګیالی خپل
ژوند بچ کړے شی. ١٥ نهٔ به غشی ویشتونکی، نهٔ به تېزه
منډه وهونکی او نهٔ به په آس سوارهٔ خپل ژوند بچ کړے شی.
١٦ په هغه ورځ به تکړه فوجیان هم بربنډ وتښتی،“ مالِک
خُدائ فرمائی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنی اِسرائيل ګناه او سزا

۳ ۱ دا کلام واورئ چې مالِک خُدائ ستاسو خلاف
فرمائی، اے بنی اِسرائيلو، دا د هغه ټولو قبيلو خلاف دے
چې ما د مِصر نه بهر راويستی دی، ۲ ”صرف تاسو يئ
چې ما د زمکې په ټولو قومونو کښې خوښ کړی يئ، نو ځکه
به زهٔ تاسو ته ستاسو د ټولو ګناهونو په وجه سزا درکړم.
۳ آيا دوه کسان يو ځائ سفر کولے شی ترڅو چې هغوئ
داسې کولو باندې متفِق نهٔ وی؟ ۴ آيا زمرے په ځنګل
کښې غړمبيږی کله چې د هغهٔ ښکار نهٔ وی؟ آيا هغه په خپل
غار کښې غړمبيږی کله چې هغهٔ څهٔ نهٔ وی نيولی؟ ۵ آيا يو
مارغهٔ په لټ کښې ګېريدے شی کله چې ورته د ګېرېدو
دپاره څهٔ نهٔ وی؟ آيا دام په زمکه په خپله بنديږی کله چې
ښکار د ګېرېدو دپاره نهٔ وی؟ ۶ کله چې په ښار کښې بيګل
وغږيږی نو خلق نهٔ يريږی؟ کله چې يو ښار باندې افت راشی
آيا دا مالِک خُدائ نهٔ وی راوستے؟ ۷ يقيناً چې قادر
مطلق خُدائ هيڅ نهٔ کوی ترڅو چې خپله منصوبه خِدمت
کوونکو پيغمبرانو ته ښکاره نهٔ کړی. ۸ خو اوس زمرے
په غړمبېدو دے نو څوک به نهٔ يريږی؟ اوس خو قادر مطلق
خُدائ خپل کلام وفرمائيلو، نو څوک به د هغهٔ د پيشګويئ
ورکولو نه اِنکار وکړی؟“

## د سامريې تباهی

۹ د اشدود قلعه ګانو ته او د مِصر قلعه ګانو ته اعلان
وکړه چې، ”د سامريه په غرونو راغونډ شئ او وګورئ چې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې ښار کښې څهٔ کيږی. څومره لويه ګډوډی ده پکښې او
څومره ظلم د هغې خلقو سره کيږی.“ ۱۰ مالِک خُدائ
فرمائی، ”هغوئ په دې نهٔ پوهيږی چې صحيح کار څنګه
وکړی. هغوئ خپلې قلعه ګانې د هغه مال نه ډکې کړې دی
کوم چې په ظلم زياتې او غلا سره اخستے شوے دے.“ ۱۱
نو ځکه قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ”دشمن به
ستاسو وطن محاصره کړی او ستاسو پخې قلعې به
راوغورزوی او ستاسو قلعې به لوټ کړی.“ ۱۲ مالِک
خُدائ دا فرمائی، ”لکه څنګه چې يو شپون د ازمرى د خولې
نه د ګډې د پښې يو دوه هډوکی يا د غوږ يوه ټوکړه بچ کړی،
نو دغسې به هغه بنی اِسرائيل چې په سامريه کښې اوسيږی
هغوئ به دومره برباد شی او داسې به پاتې شی لکه چې د
کټ يو بازو او د کُرسۍ يوه پښه باقی پاتې شی.“ ۱۳ قادر
مطلق خُدائ، ربُ الافواج دا فرمائی، ”واورئ، او د يعقوب د
خاندان خلاف ګواهی ورکړئ. ۱۴ په کومه ورځ چې زهٔ بنی
اِسرائيلو له د ګناهونو سزا ورکوم، زهٔ به د بيت‌ايل قربان‌ګاه
تباه کړم. د هرې قربان‌ګاه ښکرونه به مات شی او په زمکه به
راوغورزولے شی. ۱۵ زهٔ به د اوړی کورونه او د ژمی
کورونه دواړه تباه کړم. هغه کورونه چې د هاتی په غاښونو
ښائسته کړے شوی دی هغه به تباه شی او دا محلونه به باقی
پاتې نهٔ شی،“ مالِک خُدائ فرمائی.

# ۴

۱ ”ما ته غوږ ونيسئ، د سامريه په غرونو اے د بسن
څربه غواګانو، تاسو هغه ښځې يئ چې په غريبانانو ظلم کوئ
او ضرورتمند د پښو لاندې کوئ، او څوک چې خپلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاوندانو ته همېشه وائی چې، مونږ له د ښښلو دپاره مے
راوړئ. ۲ قادر مطلق خُدائ په خپل پاکوالی قسم وکړو
چې هغه وخت به يقيناً راشی چې تاسو ته به پوزو کښې
کُنډې واچولے شی او په راښکلو به بوتلے شئ، تاسو هر يو
کس به داسې راښکلے شئ لکه څنګه چې په کُنډه کښې کب
راښکلے شی. ۳ تاسو هر يو به په دېوالونو کښې د جوړو
شوو لارو نه په زور وويستلے شئ، تاسو به بهر د حرمون
شمال طرف ته وغورزولے شئ،" مالِک خُدائ دا فرمائی.

## د بنی اِسرائيلو نافرمانی

۴ "نو بيا خو لاړ شئ او په بيت‌ايل کښې بُتانو ته قربانۍ
پېش کړئ. په جِلجال کښې نافرمانۍ جاری ساتئ. هر سحر
قربانی کوئ، او په هره دريمه ورځ خپله لسمه حِصه راوړئ.
۵ خمبيره روټۍ د شکرانې په طور پېش کړئ بيا په اوچت
آواز د هغه قربانو اعلان وکړئ کومې چې تاسو په خپله
خوښه کوئ. ځکه چې داسې کارونه کول تاسو بنی اِسرائيل
ډېر خوښوئ،" دا مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. ۶ "ما
په هر ښار لوږه راوسته او په هر کلی مې قحط راوستو. خو
بيا هم تاسو ما ته واپس رانهٔ غلئ،" مالِک خُدائ دا فرمائی.
۷ "کله چې ستاسو فصل ته د باران سخت ضرورت وو
نو ما د دې وريدل بند کړل. ما په يو کلی باران وورولو خو په
بل کلی مې ونهٔ ورولو. په يو پټی باران وشو، خو بل پټے اوچ
شو. ۸ خلق د اوبو په لټون کښې کلی په کلی سرګردانه
ګرځېدل، خو هلته هم د ښښلو دپاره کافی اوبهٔ نهٔ وې. خو بيا
هم تاسو ما ته واپس رانهٔ غلئ،" مالِک خُدائ دا فرمائی. ۹

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”ما ستاسو په فصلونو او د انګورو په باغونو تِليا او بيمارى
راوسته. د قحطۍ مُلخانو ستاسو د اينځرو او د زيتُونو ونې
وخوړلې. خو تاسو بيا هم ما ته واپس رانۀ غلئ،“ مالِک
خُدائ دا فرمائى. ١٠ ”ما په تاسو وباګانې راوستلې څنګه
مې چې په مِصريانو راليږلې وې. ما ستاسو زلمى په تُوره
ووژل، او ستاسو ټول آسونه مې بوتلل. ما ستاسو په لښکر
ګاه کښې ستاسو پوزې د مړو د بوئ نه ډکې کړې. خو تاسو
بيا هم ما ته واپس رانۀ غلئ،“ مالِک خُدائ دا فرمائى. ١١
”ما ستاسو څۀ خلق تباه کړل لکه څنګه چې مې د سدوم او
عموره خلق تباه کړى وُو. تاسو د هغه نيم سوزيدونکى لرګى
په شان وئ کوم چې د اور نه راښکلے شوے وى، خو تاسو
بيا هم ما ته راونۀ ګرځېدئ،“ مالِک خُدائ دا فرمائى. ١٢
”نو اے بنى اِسرائيلو، تاسو به وګورئ چې زۀ درسره څۀ
کوم، نو ځکه زۀ درسره داسې کوم، نو د خپل خُدائ پاک
سره د ملاقات دپاره تيار شئ، اے بنى اِسرائيلو.“ ١٣ ځکه
چې مالِک خُدائ هم هغه دے چا چې غرونه پيدا کړى دى،
او هوا يې پيدا کړې ده، او خپل خيالات بنى آدم ته
څرګندوى. هغه د سحر رڼا په تيارۀ بدلوى او د زمکې په
اوچتو ځايونو باندې ګرځى. د هغۀ نوم مالِک خُدائ پاک،
ربُ الافواج دے.

## د بنى اِسرائيلو سندرې وئيل

**۵** ١ اے بنى اِسرائيلو، زۀ چې د غم کومه سندره ستاسو
په حقله وايم، هغې ته غوږ ونيسئ، ٢ ”پيغله بنى اِسرائيل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغورزېدلې ده، بيا به هيڅکله دوباره نۀ راپاڅى. هغه په خپله
زمکه يواځې راغورزېدلې ده چې هيڅوک به يې دوباره ونۀ
دروى.“ ٣ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، ”د بنى
اِسرائيلو د يو ښار نه چې زر فوجيان د جنګ دپاره ولېږلے
شى، نو صرف سل به په کښې پاتې شى، او چې د يو بل ښار
نه يې سل فوجيان ولېږلے شى، نو صرف لس به په کښې
واپس راشى.“ ٤ مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو قوم ته داسې
فرمائى، ”ما ولټوئ نو تاسو به ژوندى پاتې شئ. ٥ مۀ
بيت‌ايل لټوئ، او مۀ جِلجال ته ځئ، او مۀ بيرسبع ته سفر
کوئ ځکه چې د جِلجال خلق به يقيناً جلاوطن کړے شى، او
بيت‌ايل به نيست و نابود کړے شى.“ ٦ د مالِک خُدائ
طلبګار شئ نو ژوندى به پاتې شئ، ګنې هغه به د يوسف
خاندان لکه د اور وسوزوى، او بيت‌ايل به خاورې ايرې کړى
او هيڅوک به داسې نۀ وى چې هغه اور مړ کړى. ٧ تاسو
هغه څوک يئ چې اِنصاف په ګنهير بدلوئ او صداقت په
زمکه راغورزوئ. ٨ هغه چا چې ستورى پيدا کړى دى، چا
چې د ستورو غومبک پيدا کړے دے. او څوک چې تيارۀ د
سحر په رڼا بدلوى، او د ورځې رڼا په شپه بدلوى. څوک چې
د سمندر اوبۀ راوغواړى او د زمکې په مخ يې وراړوى، د هغۀ
نوم مالِک خُدائ دے. ٩ هغه په زورَورو خلقو سمدستى
تباهى راولى او د هغوئ مضبوطې قلعه ګانې تباه کوى. ١٠
تاسو د هغوئ نه نفرت کوئ څوک چې په عدالت کښې
اِنصاف کوى، او هغوئ سپکوئ څوک چې حقيقت وائى.
١١ تاسو په غريبانانو ظلم کوئ او د هغوئ په غله د حد نه
زيات ټيکس لګوئ. نو په دې وجه اګر کۀ تاسو د کاڼو نه
ښائسته کورونه جوړ کړى دى خو تاسو به په هغې کښې نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسیږئ، اګر کۀ تاسو د انګورو ډک باغونه کَرلی دی خو
تاسو به د هغې مے ونۀ څښئ. ۱۲ ما ته پته ده چې ستاسو
جرمونه څومره ډېر دی او ستاسو ګناهونه څومره لوئې دی.
تاسو په صادقانو ظلم کوئ او رشوتونه اخلئ او د غریبانانو
سره په عدالت کښې اِنصاف نۀ کوئ. ۱۳ نو په دې وجه
هوښیار انسان په داسې وخت کښې خاموشه وی، ځکه چې
زمانه ډېره خرابه ده. ۱۴ د ښو لټون کوئ او بدو پسې مۀ
ګرځئ نو تاسو به ژوندی پاتې شئ. نو بیا به مالِک خُدائ،
ربُ الافواج ستاسو مل وی، لکه څنګه چې تاسو دعویٰ کوئ
چې هغه ستاسو مل دے. ۱۵ د بدو نه نفرت کوئ او د نېکۍ
سره مینه کوئ، او په عدالت کښې اِنصاف قائم کړئ. نو
کېدے شی چې مالِک خُدائ، ربُ الافواج، د بنی اِسرائیلو په
باقی پاتې شوو خلقو رحم وکړی. ۱۶ نو ځکه مالِک خُدائ،
ربُ الافواج قادر مطلق خُدائ فرمائی، ”په ټولو کوڅو کښې
به ژړاګانې وی او په هر چوک کښې به د مړو وِیر وی.
زمینداران د ماتم کولو دپاره راوغوښتلے شی او کسبی ماتم
کوونکی به د ژړا دپاره راوغوښتلے شی. ۱۷ د انګورو په
ټولو باغونو کښې به ژړاګانې وی، ځکه چې زۀ به ستاسو د
سزا دپاره ستاسو په مینځ کښې تېر شم،“ مالِک خُدائ
فرمائی.

## د مالِک خُدائ ورځ

۱۸ په تاسو دې افسوس وی څوک چې د مالِک خُدائ د
قیامت د ورځې ارمان کوئ. تاسو ولې د مالِک خُدائ د
قیامت د ورځې ارمان کوئ؟ دا به ستاسو دپاره د رڼا نه بلکې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تیارۍ ورځ وی. ۱۹ دا به داسې وی لکه چې څوک د
ازمرى نه تښتى او مېلو ته مخامخ شى، او يا خپل کور ته لاړ
شى او لاس په دېوال باندې کېږدى او مار يې وچيچى. ۲۰
آو، د مالِک خُدائ د قيامت ورځ به تيارۀ او د نااُميدۍ سبب
وى. دې کښې به د خوشحالۍ يا د اُميد رڼا نۀ وى. ۲۱ ”زۀ
ستاسو اخترونو نه سخت نفرت کوم او ستاسو مذهبى
محفلونه ما ته هيڅ خوشحالى نۀ راکوى. ۲۲ اګر کۀ تاسو ما
ته سوزېدونکې نذرانې او د غلې نذرانې راوړئ، نو زۀ به دا
قبولې نۀ کړم. اګر کۀ تاسو ما ته د څورب څناورو د خپلې
خوښې نذرانې پېش کړئ زۀ به دې ته هيڅ نظر ونۀ کړم. ۲۳
د خپلو سندرو شور زما نه اخوا کړئ، زۀ ستاسو د رباب
ساز اورېدل نۀ غواړم. ۲۴ د دې په ځائ دې اِنصاف لکه د
اوبو د چپو په شان وبهېږى، او صداقت د هغه سيند په شان
چې هيڅکله نۀ اوچېږى. ۲۵ اے بنى اِسرائيلو، کله چې تاسو
د څلوېښتو کالو دپاره په بيابان کښې وئ نو ما ته مو کله
قربانۍ او نذرانې راوړې دى څۀ؟ ۲۶ خو اوس چې تاسو د
سکوت بُت عبادت وکړو کوم چې تاسو خپل بادشاه منئ، او
کيوان چې ستاسو په ستورو کښې معبود دے، نو تاسو به دا
بُتان په خپلو اوږو ګرځوئ. ۲۷ نو په دې وجه به زۀ تاسو د
دمشق نه هم اخوا جلاوطن کړم،“ مالِک خُدائ فرمائى، د چا
نوم چې قادر مطلق خُدائ دے.

## د بنى اِسرائيلو تباهى

۶ ۱ ”په تاسو دې افسوس وى څوک چې په صيون کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په آرام پراتۀ يئ، او په تاسو هم څوک چې خپل ځان د
سامرېې په غر محفوظ ګڼئ. تاسو په بنى اِسرائيلو کښې نامتو
او مشهور يئ، چا له چې خلق د مدد غوښتلو دپاره ورځى.
٢ تاسو کلنه ښار ته لاړ شئ او وګورئ چې هلته څۀ شوى
دى. بيا د حمات لوئ ښار ته لاړ شئ، او بيا په فلستيه کښې
د جات ښار ته ورکوز شئ. تاسو خو د هغوئ نه څۀ زيات
ښۀ نۀ يئ؟ ولې ستاسو علاقه د هغوئ نه لويه ده څۀ؟ ٣
تاسو دا نۀ منئ چې د مصيبت هغه ورځ به راشى، بلکې تاسو
د بې‌اِنصافئ حکومت قائم کړے دے. ٤ په تاسو افسوس
چې د هاتى په غاښونو په ښائسته کړے شوى پالنګونو کښې
اودۀ کيږئ او په حُجره کښې په کټونو کښې غزيږئ. تاسو د
خوراک دپاره د خپلو رمو نه د خوښې ګډورى او د خپل مال
نه څربه سخى خوښوئ. ٥ تاسو په سريندو کښې بې‌مطلبه
سازونه غږوئ او خپل ځان د داؤد سره د برابرولو کوشش
کوئ. ٦ تاسو د ميو ډک جامونه څښئ او اعلىٰ عطر
لګوئ، خو تاسو د خپل مُلک په تباهئ څۀ خفګان نۀ کوئ.
٧ نو ځکه تاسو به اولنى خلق يئ چې جلاوطن به شئ، او
ستاسو ميلې او غزيدل به ختم شى.“ ٨ قادر مطلق خُدائ
په خپل ذات قسم کړے دے. مالِک خُدائ، ربُ الافواج
فرمائى، ”زۀ د يعقوب د غرور نه کرکه کوم، او د هغۀ
مضبوطو قلعه ګانو نه نفرت کوم. زۀ به ښار او په دې کښې
چې هر څۀ دى دشمن ته حواله کړم.“ ٩ کۀ په يو خاندان
کښې لس سړى پاتې وى نو هغوئ به هم مړۀ شى. ١٠ او
چې کله د هغوئ يو خپلوان راشى څوک چې د هغوئ د مړو
د دفن کولو ذمه وار وى او کور ته ورننوځى چې مړى رابهر
کړى، نو هغه به د آخرى بچ شوى کس نه تپوس وکړى، ”آيا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا سره نور څوک شته؟“ نو هغه به وائي چې، ”نه.“ نو کله
چې هغه ورته قسم خوړل غواړی، نو بيا به هغه ورته ووائی
چې، ”چپ شه، مونږ له په کار دی چې د مالِک خُدائ نوم
وانهٔ خلو.“ ١١ کله چې مالِک خُدائ حکم وکړی، نو بيا به
هغه غټ او واړهٔ کورونه دړې وړې کړی. ١٢ آيا آسونه په
غټو کاڼو کښې منډې وهلے شی؟ آيا څوک په غوَيانو باندې
سمندر قلبه کولے شی؟ خو تاسو اِنصاف په ګنډير بدل
کړے دے او د صداقت ميوه مو په بدئ بدله کړې ده. ١٣
تاسو د لودبار په فتح خوشحالی کوئ، او وايئ چې، ”آيا مونږ
په خپل طاقت سره قرنَيم نهٔ دے نيولے څهٔ؟“ ١۴ مالِک
خُدائ، ربُ الافواج په خپله فرمائی چې، ”اے بنی اِسرائيله،
زهٔ به ستا خلاف يو قوم درولېږم، چې په تاسو به د
ليبوحمات نه تر عرابه وادئ پورې ظلم کوی.“

## د قحطئ د مُلخانو په حقله رويا

7 ١ قادر مطلق خُدائ ما ته په رويا کښې دا وښودل
چې، هغهٔ د قحطئ مُلخانو لښکرې د حملې دپاره تيارولې. دا
په هغه وخت کښې وشول کله چې د بادشاه د برخې وړومبے
فصل ريبلے شوے وو او د دويم فصل د راختلو وخت وو.
٢ ما په خپله رويا کښې وليدل چې د قحطئ مُلخانو د
زمکې ټول شينکے وخوړلو، نو بيا ما ووئيل چې، ”اے قادر
مطلق خُدايه مونږ معاف کړه، ګنې مونږ به ژوندی پاتې نهٔ
شُو، ځکه چې د بنی اِسرائيلو قوم ډېر وړوکے دے.“ ٣ نو
مالِک خُدائ خپله فيصله بدله کړه، چې، ”داسې به بيا کله
ونهٔ شی،“ مالِک خُدائ وفرمائيل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اور په حقله رويا

۴ نو قادر مطلق خُدائ ما ته بله رويا وښودله، په رويا
کښې ما وکتل چې هغه تيارے کوی چې خپلو خلقو له د غټ
اور په ذريعه سزا ورکړی. هغه اور د سمندر بېخ وسوزولو او
ټوله زمکه يې تباه کړه. ۵ نو بيا ما چغې کړې، ”اے قادر
مطلق خُدايه زهٔ تا ته زاری کوم، بس کړه. ګني مونږ به
ژوندی پاتې نهٔ شُو، ځکه چې د بنی اِسرائيلو قوم ډېر
کمزورے دے.“ ۶ نو مالِک خُدائ خپله فېصله بدله کړه،
چې، ”داسې به بيا کله ونهٔ شی.“ مالِک قادر مطلق خُدائ دا
وفرمائيل.

## د سال په حقله رويا

۷ نو بيا ما ته مالِک خُدائ يوه بله رويا وښودله. په دې
کښې ما وليدل چې مالِک خُدائ د يو داسې دېوال په خوا
کښې ولاړ وو چې د سال سره جوړ وو او د هغهٔ په لاس
کښې سال وو. ۸ او مالِک خُدائ زما نه تپوس وکړو چې،
”عاموسه، تا ته څهٔ ښکاری؟“ نو ما ورته جواب ورکړو چې،
”سال.“ بيا مالِک خُدائ وفرمائيل، ”وګوره، زهٔ د خپلو خلقو
بنی اِسرائيلو په مينځ کښې سال لګوم، زهٔ به نور د هغوئ
ګناهونه پرې نهٔ ږدم. ۹ په کومو علاقائی عبادتخانو کښې
چې د اِسحاق اولاد عبادت کولو هغه به تباه شی او د بنی
اِسرائيلو مقدس ځايونه به هم کنډرې شی، او زهٔ به د يربعام
خاندان نيست و نابود کړم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# عاموس او امصیاه

۱۰ نو بیا د بیت‌ایل اِمام امصیاه د اِسرائیل بادشاه یربعام له
دا خبر ورولیږلو چې، ”عاموس د بنی اِسرائیلو په مینځ کښې
ستا خلاف سازشونه جوړوی. د هغهٔ وینا د برداشت نه بهر
ده. ۱۱ ځکه چې عاموس داسې فرمائی چې، یربعام به په
تُوره مړ شی، او بنی اِسرائیل به د خپل مُلک نه پردی مُلک ته
جلاوطن کړے شی.“ ۱۲ بیا امصیاه عاموس ته ووئیل،
”اے رویا کتونکیه، دلته نه اوځه. او واپس د یهوداه مُلک ته
لاړ شه. هلته خپل رزق وګټه او هلته خپلې پېشګویانې کوه.
۱۳ دلته په بیت‌ایل کښې نورې پېشګویانې مهٔ کوه، ځکه چې
بادشاهی محل او بادشاهی عبادتخانه دلته ده.“ ۱۴ خو
عاموس امصیاه ته جواب ورکړو، ”نهٔ زهٔ پېغمبر یم او نهٔ د
پېغمبر زوئ یم، زهٔ صرف یو شپون یم او د اینځر د ونو خیال
هم ساتم. ۱۵ خو مالِک خُدائ زهٔ د شپونتوب نه راروان
کړم او حُکم یې راکړو چې، لاړ شه او زما خلقو اِسرائیل ته
پېشګوئې وکړه. ۱۶ نو بیا اوس د مالِک خُدائ کلام ته غوږ
شه. تهٔ وائې چې، د بنی اِسرائیل خلاف پېشګوئې مهٔ کوه. او د
اِسحاق د قوم خلاف تبلیغ بند کړه. ۱۷ نو په دې وجه مالِک
خُدائ دا فرمائی چې، ستا ښځې نه به د ښار کنجره جوړه
شی، او ستا زامن او لوڼه به په تُوره مړهٔ شی. ستا مُلک به
ناپ کړے شی او تقسیم به شی، او تهٔ به په خپله په یو ناپاک
مُلک کښې مړ شې. او بنی اِسرائیل به د خپل مُلک نه پردی
مُلک ته جلاوطن کړے شی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پخې مېوې د ټوکرۍ رويا ليدل

۸ ۱ ما ته مالِک خُدائ يوه بله رويا وښودله. په دې کښې
مې د پخې مېوې يوه ټوکرۍ وليدله. ۲ مالِک خُدائ تپوس
وکړو، ”اے عاموسه، تا څۀ وليدل؟“ نو ما ورته جواب
ورکړو، ”د پخې مېوې ډکه ټوکرۍ مې وليدله.“ بيا مالِک
خُدائ ما ته وفرمائيل، ”زما د خلقو بنى اِسرائيلو دپاره وخت
پوخ شوے دے، زۀ به نور هغوئ د سزا نه بغېر نۀ پرېږدم.“
۳ قادر مطلق خُدائ فرمائى، ”په هغه ورځ، به د عبادتخانې
سندرې په ژړا او ماتم بدلې شى. ډېر مړى به په هر ځائ
کښې په خاموشۍ پراتۀ وى.“

## د بنى اِسرائيلو تباهى

۴ واورئ اے هغه خلقو څوک چې ضرورتمند راغورزوئ
او د مُلک غريبانان تباه کوئ. ۵ تاسو خپل ځان سره وايئ
چې، ”کله به د نوې مياشت ورځ ختمه شى او کله به د سبت
ورځ تېره شى چې مونږ خپل د غلې گوداموته کولاو کړُو او
غله خرڅه کړُو؟ او مونږ ناپ تول کښې چل وَل وکړُو، او د
څيزونو قيمتونه اوچت کړُو، او په تله کښې ټگى او دوکه
وکړُو. ۶ غريبانان په سپينو زرو او ضرورتمند په يوه
جوړه څپلو اخلو، او غنم هم د بوسو سره خرڅوو.“ ۷ هغه
مالِک خُدائ چې يعقوب وربانديې فخر کوى قسم وکړو چې،
”زۀ به هيڅکله هغه کارونه هېر نۀ کړم چې دوئ کړى دى.
۸ د دې په وجه به زمکه ولړزيږى او څوک هم چې په دې
مُلک کښې اوسيږى هغه به ماتم کوى. لکه څنګه چې په مِصر
کښې د نيل درياب د سيلاب په وخت کښې اوچتيږى داسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به ټوله زمکه اوچته شی، او بیا به دوباره کښېنی.“ ۹ مالِک
قادر مطلق خُدائ فرمائی، ”په هغه ورځ به زهٔ نمر په نیمه
ورځ ښکته کړم او په زمکه به په رڼا ورځ تیارهٔ راولم. ۱۰ زهٔ
به ستاسو مذهبی اخترونه په ماتم بدل کړم او ستاسو د
خوشحالئ ټولې سندرې به د غم په سندرو بدلې کړم. زهٔ به په
ټولو د ټاټ جامې واغوندمه او سرونه به پرې ګنجیان کړم.
خلق به داسې ماتم کوی لکه چې ايک یو زوئ یې مړ وی.
هغه ورځ به خومره سخته وی.“ ۱۱ قادر مطلق خُدائ
فرمائی، ”هغه ورځې راروانې دی، کله چې زهٔ په زمکه باندې
قحط راولم. خو دا به د لوږې او تندې قحط نهٔ وی، بلکې دا به
د خُدائ پاک د کلام د نهٔ اورېدلو قحط وی. ۱۲ خلق به د یو
سمندر نه بل سمندر پورې او د شمال نه تر مشرق پورې
ګرځی، چې د مالِک خُدائ کلام ولټوی، خو دوئ به یې پېدا
نهٔ کړی. ۱۳ په هغه ورځ به ښائسته پېغلې او ځوانان د تندې
نه بېهوشه شی. ۱۴ کوم خلق چې د سامریه په شرمېدلو
بُتانو قسم خوری، او یا وائی چې اے دان، زمونږ دې ستا په
خُدائ قسم وی، او یا وائی چې اے بیرسبع، زمونږ دې ستا
په خُدائ قسم وی، نو داسې خلق به راوغورزیږی او بیا به د
پاڅېدو جوګه نهٔ وی.“

## بنی اِسرائیل به تباه کړے شی

۹ ۱ ما ولیدل چې مالِک خُدائ د قربانګاه سره ولاړ وو.
او هغهٔ وفرمائیل چې، ”د عبادتګاه د ستنو پاس سرونه ووهئ
چې بنیادونه یې ولړزیږی. د خلقو په سرونو یې ښکته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوغورزوئ، څوک چې ژوندی پاتې شی هغوئ به زۀ په تُوره
مړۀ کړم. يو به هم ونۀ تښتی، او هيڅ څوک به پاتې نۀ شی.
۲ کۀ هغوئ زمکه وکنی او لاندې عالمِ ارواح ته هم کوز
شی، نو زما لاسونه به يې د هلته نه هم راوباسی. کۀ هغوئ
آسمان ته هم وخېژی، نو زۀ به يې هلته نه ښکته راکوز کړم.
۳ کۀ هغوئ د کرمل غر په سر هم خپل ځانونه پټ کړی،
زۀ به يې هلته هم ولټوم او راګېر به يې کړم. کۀ هغوئ زما نه
د سمندر په بېخ کښې پټ شی، نو زۀ به هلته سمندری مار له
حُکم ورکړم چې وې چيچی. ۴ کۀ د هغوئ دشمنان هغوئ
جلاوطن کړی، نو هلته به زۀ تُورې ته د هغوئ د قتلولو حُکم
ورکړم. زۀ به خپل نظر په هغوئ وساتم د هغوئ د فائدې
دپاره نه بلکې د هغوئ د نقصان دپاره.“ ۵ مالِک خُدائ،
ربُ الافواج خُدائ، چې زمکې له لاس وروړی نو زمکه ويلی
شی. او د هغې ټول خلق ماتم کوی. ټوله زمکه داسې
اوچتيږی لکه څنګه چې د سېلاب په وخت دريائے نيل
راوچتيږی، او بيا واپس ښکته کيږی. ۶ د مالِک خُدائ
محل بره تر آسمانه پورې رسيږی، او د هغې بنياد يې په زمکه
ايښے دے، هغه د سمندر نه اوبۀ راوباسی او د باران په
شکل يې دوباره په زمکه راوروی. د هغۀ نوم مالِک خُدائ
دے. ۷ مالِک خُدائ فرمائی، ”اے بنی اِسرائيلو، ولې تاسو
ګنړې ما ته د ايتهوپيا د خلقو نه ډېر اهم نۀ يئ څۀ؟ ما بنی
اِسرائيل د مِصر نه راوويستل، خو ما فلستيان هم د کريتې نه
او آراميان مې د قير نه هم راوويستل. ۸ ګوره، زۀ قادر
مطلق خُدائ د بنی اِسرائيلو ګناهګاره قوم وينم. زۀ به دا د
زمکې د مخ نه ختم کړم. خو زۀ به هيڅکله د يعقوب خاندان
مکمل نۀ ختموم. مالِک خُدائ فرمائی. ۹ نو زۀ به حُکم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړم، او زۀ به د بنی اِسرائيلو قوم په نورو قومونو کښې
داسې چاڼ کړم لکه څنګه چې په چج غله چاڼ کيږی، او يو
کاڼے به هم په غله کښې ترې نه لاړ نۀ شی. ۱۰ ټول ګناه
ګار چې زما په خلقو کښې دی په تُوره به مړۀ شی، هغوئ
ټول به مړۀ شی چې داسې وائی، نۀ به په مونږ افت راځی او
نۀ به تباه کيږُو.

## د بنی اِسرائيلو بيا آباديدل

۱۱ په هغه ورځ به زۀ د داؤد نړيدلے کور بيا آباد کړم. زۀ به
د دې خراب شوی ديوالونه جوړ کړم او کنډر به يې بيا ودان
کړم او لکه د پخوا په شان به يې بيا آباد کړم، ۱۲ نو بنی
اِسرائيل به د ادوم په پاتې ځايونو قبضه وکړی او په ټولو هغه
قومونو به قبضه وکړی چې زما په نوم دی.“ دا د مالِک
خُدائ فرمان دے، څوک چې به دا هر څۀ کوی. ۱۳ مالِک
خُدائ فرمائی چې، ”هغه ورځې راروانې دی چې فصلونه به
ډير زيات وی. او فصل ريبلو له به دومره وخت پکار وی
چې قُلبه کوونکی به فصل ريبونکو پسې زمکه تياروی. د
انګورو فصل به هم، هم داسې وی، د انګورو د زياتوالی په
وجه به د هغې نه د رس ويستلو دپاره دومره وخت پکار وی
چې ورسره به تخم کرونکی خپل کر شروع کړی. د زياتوالی
له وجې به نوی مے د غرونو نه راڅاڅی او د ټولو غونډو نه
به رابهيږی. ۱۴ زۀ به خپل جلاوطنه خلق بنی اِسرائيل واپس
راولم، هغوئ به خپل کنډر شوی ښارونه بيا آباد کړی او په
کښې به اوسيږی، هغوئ به د انګورو باغونه وکَری او د دې
مے به څښی، هغوئ به باغونه وکَری او د دې ميوه به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوری. ۱۵ زهٔ به بنی اِسرائيل د هغوئ په خپل مُلک کښې
وکَرم، او دوئ به هيڅکله بيا د بېخ نه راونهٔ ويستلے شی د
هغه مُلک نه چې ما ورته ورکړے دے،“ ستاسو مالِک خُدائ
دا فرمائی.


pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.